بسم الله الرحمن الرحیم

# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۲/ شعبان المعظم /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۳ / حوت/۱۴۰۳هـ، ش**

# قوي ایمان لرونکی مسلمان هېڅکله د کافرانو او فاسقانو د تبلیغاتو تر اغېزې لاندې نه راځي.

الحمد لله رب العالمین، ولي الصالحین، ولا عدوان إلا على الظالمین، والصلاة والسلام على إمام المتقین وقدوة الناس أجمعین، وعلى آله وصحبه والتابعین رضوان الله تعالى علیهم اجمعین، أمَّا بَعْد:

قال الله سبحانه وتعالى:(وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلا قَلِيلاً) النساء: (۸۳)

**پتمنو حاضرینو او درنو اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

جګړه او جنګ په دوه ډوله دي .یو فیزیکي او عملي جګړه چې دوه کسان یا دوه دولتونه سره په جنګ شي او یو د بل په مقابل کې له توپونو، ټانکونو او طیارو څخه کار اخلي او یو دبل د شکست په هڅه کې وي.

بله تبلیغاتي جګړه ده چې ځینې ډلې یا دولتونه یې د خپل مقابل لورې د نفسیاتو د کمزوري کولو لپاره په کار اچوي.

دتبلیغاتي جګړې وسائل د فزیکي جګړې له وسائلو څخه فرق کوي، په تبلیغاتي جګړه کې د جګړې وسائل او ابزار تلویزونونه، رادیوګانې، او اجتماعي وسائل دي چې ددغو وسائلو څخه په استفادې سره یو دښمن د مقابل لورې دښمن په ضد د تقریرونو، اخبارونو، نشریاتو له لارې تبلیغات کوي ترڅو د خپل مقابل لورې د ولس او جنګیالیو نفسیات او عزم ضعیفه او کمزوري کړي او د هغوی په صفونو کې درز را منځ ته کړي.

هرکله چې دنړۍ زبرځواک امریکا ته او د هغه شریکانو ته د الله تعالی په مرسته او نصرت سره داسلامي امارت مجاهدینو شکست ورکړ او په نړۍ کې رسوا شول؛ نو اوس یې په تبلیغاتي جګړه پیل کړی دی او د اسلامي امارت او اسلامي نظام پر ضد وخت په وخت ډول ډول ناوړه تبلیغات کوي.

**۱- دمسلمانانو په ضد تبلیغات او تبلیغاتي جګړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو په مقابل کې منافقینو مخ په وړاندې وړله.**

تبلیغاتي جګړه او د کافرانو او فاسقانو تبلیغات د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وخت څخه را روانه ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به منافقانو تل د مسلمانانو د اضطراب او تزلزل لپاره قسماقسم آوازې اچولی او د مکې مشرکانو به هم مختلف ډول اعتراضونه په رسول الله صلی الله علیه وسلم کول.

چې بیا الله تعالی ددوی له تبلیغاتو څخه پرده پورته کړه او داسې یې وفرمایل: (لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلاً (۶۰) مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلاً)الاحزاب:(۶۱)

ترجمه:- قسم دی که منع نشول منافقان(له نفاق څخه) او هغه کسان چې په زړونو د دوی کې رنځ دی (د زنا کولو له بد کاری خپلې نه) او بدې آوازې ګډوونکي په (ښار د) مدینې کې.
نو خامخا به وګمارو مسلط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی،بیا به همسایه توب ونه کړي(دوی) د تا په دغه(مدینه کې) مګر لږ وخت رټلي تر ټلي شوي هر چېرې چې وموندلی شي؛ و به نیولی شي،او وبه وژلی شي په وژلو (د خواری سره).
**توضیح:** په مکه مکرمه کې به مشرکینو ویل چې دا څرنګه پیغمبر دی چې ملائکې ورسره نه ګرځي، چا به ویل دا(محمد صلی الله علیه وسلم ) لیونی دی یا ورباندې پیریان دي له غیبو خبرونه ورته راوړي ، چا به ویل په ده سحر شوی دی او چابه ویل چې (محمد صلی الله علیه وسلم ) په خپله ساحر دی.
کله چې نبي علیه السلام مدینې منورې ته هجرت وکړ ، نو منافقینو به مختلف تبلیغاتي آوازې اچولې.
امام العز عبدالسلام رح ددې آیت په تفسیر کې وایې: د(المرجوفون) څخه مراد د هغو خبرو بیانوونکي چې هغه د مسلمانانو زړونه کمزوری کوي او د مشرکینو زړونه قوي کوي یا داچې ارجاف د فتنې لټولو ته ویل کیږي او ارجاف ته اراجیف ځکه ویل کیږي چې په هغې کې د آوازونو اضطراب موجود وي. تفسیر العز بن عبد السلام(ص: ٩٢٠)
په یو بل مبارک آیت کې راځي چې کله منافقانو ته د مجاهدینو د کامیابۍ خبر راورسیږي او یا دمجاهدینو د شهادت خبر راورسیږي ، نو مخکې له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیږي دوی د هغې تبلیغات شروع کړي او ژر ژر یې په خلکو خپروي.
الله تعالی فرمایلي دي:(وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ) النساء: (٨٣)
ترجمه:- او کله چې راشي دې (منافقانو) ته کوم امر(خبره) له امن(نصرت) یا(کوم خبر له )ویرې (هزیمت)نو مشهوروي دوی هغه(خبر).
**توضیح:** امام طبري رح وایي: (أذاعوا به)، یقول: أفشوه وبثّوه في الناس قبل ما أتى رسول الله صلى الله عليه وسلم. تفسیر الطبري (٨ /٥٦٨)
ژباړه:- د (أذاعوا به) په معنې کې وایې هغه (خبر) افشاء او خپور یې کړي په خلکو کې مخکې له دینه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیږي او مخکې له دې چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سریه او لښکر راورسیږي.
همدارنګه دوی په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې ناوړه تبلیغات کول او ویل به یې:(وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيِقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُواْ مِنكُمْ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ).التوبة:(٦١)
ترجمه:- او ځینې له دوی هغه کسان دي چې آزار رسوي دوی نبي ته ، او وایي چې دغه (رسول ټول) غوږونه دي (چې هره خبره آوري او تصدیق پرې کوي)، ووایه (ای محمده! دوی ته) چې دی آورېدونکی د نېکې (خبرې) ستاسې دی، یقین لري دی په (کلام د ) الله او باور کوي دی په (خبرو د خالصو) مؤمنانو، او (دی) رحمت دی لپاره د هغو کسانو چې (یواځې یې په ژبه سره ظاهرا) ایمان راوړی دی له تاسې، او هغه کسان چې آزار رسوي رسول الله (محمد) ته؛ مقرر دی دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کې).
**توضیح:** منافقینو به ویل چې نبي علیه السلام یو غوږ دی.یعنې هرڅه چې ورته هرڅوک وایې قبلوي یې. الله تعالی یې ددې تبلیغاتو څخه پرده پورته کړه او ورته یې وفرمایل: چې نبي علیه السلام غوږ دخیر دی او غوږ د شر نه دی.یعنې د خیر خبره اوري او قبلوي یې او دشر خبره نه اوري او نه یې قبلوي. تفسیر القرطبي (٨ /١٩)
د اسلام د لومړۍ ورځې څخه مشرکانو ډول ډول تبلیغات کول او هغه یې خپرول.کله چې صحابه کرامو حبشې ته هجرت وکړ، مشرکانو دا خبره خپره کړه چې د اهل مکه وو اسلام قبول کړ، ددې تبلیغاتو په اساس صحابه کرام د مکې په لور راګرځیدل، کله چې مکې مکرمې ته نږدی شول ورته معلومه شوه چې دا تبلیغات ؤ او بیرته حبشې ته ستانه شول.[سیرة ابن هشام]

همداراز د أحد په غزوه کې شیطان او د شیطان ملګرو داسې آوازې خپرې کړې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ووژل شو چې دې تبلیغاتو د مسلمانانو په روحیه باندې منفي اثر وکړ او ځینو صحابه کرامو د جګړې څخه لاس واخیست او سلاح یې کیښوده.[ ابن هشام]
په حدیث شریف کې د ناوړه تبلیغاتو څخه منع راغلی ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ زَعَمُوا). سنن أبى داود
ژباړه:- بده ده هغه سپرلی د سړي چې هغه ګمان د خلکو دی.
یعنې دا ډیر بد کار دی چې سړی د خلکو په زعم او ګمان باندې داسې کلک عمل کوي بدون د ثبوت څخه لکه هغه چې یې خپله سپرلی ګرځولي وي. لکه مونږ په پښتو کې وایو فلانی په خپله خبره سپور دی یعنې نه تیریږي ورڅخه.
**۲- قوي ایمان لرونکی مسلمان باید هیڅکله د کافرانو او فاسقانو د تبلیغاتو په وجه د ضعیف او کمزوري نشي، بلکې تل ددښمن په مقابل کې قوت او صلابت اختیار کړي.**
مسلمان باید د ایمان له لحاظه قوي وي او د کافرانو او فاسقانو د بدو تبلیغاتو څخه به نه متأثره کیږي ، نه به د عاجزۍ احساس کوي او نه به د کمزورۍ احساس کوی، بلکې په ځان کې به قوت او صلابت پیداکوي او د الله تعالی څخه د ثابت قدمۍاو په کافرانو باندې د غلبې سوال کوي.
الله تعالی فرمایي: {وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ(١٤٦) وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلا أَنْ قَالُوا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِي أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ)آل عمران: (١٤٧)
ترجمه:- او نه وه وینا د دوی (یعنې وینا د مجاهدینو) مګر دا چې ویل دوی : ای ربه ځمونږ! وبخښه مونږ ته ګناهونه ځمونږ! او له حده تېرېدل په (دې) کار ځمونږ کې، او ثابت (ټینګ کړه) قدمونه ځمونږ(په طاعت خپل کې)! او مرسته (مدد) وکړه له مونږ سره په قوم کافرانو!.
**توضیح:** مسلمان باید د کافرانو او فاسقانو په مقابل کې قوي او مضبوط وي او د الله تعالی په لاره کې که هرڅومره مشکلات ور باندې راشي په خپل حق دریغ باندې به ولاړ وي او ددښمن په مقابل کې به د صلابت په حالت کې وي.
الله تعالی په پورتني مبارک آیت کې د مؤمنانو درې ډوله صفات ذکر کړي دي چې یو (فماوهنوا) بزدلی او سستي به نه کوي ، دوهم:- (وما ضعفوا) ضعیفي او ذلت به نه قبلوي ، دریم: (وما استکانوا) عاجزي به نه کوي دښمن ته.
او کافران او فاسقان منافقین باید په مسلمان کې سختي او صلابت ووینې. الله تعالی فرمایي( وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً) (١٢٣ ) باید کافران وموميي په تاسو کې صلابت او استقامت .
ابن عاشور رح وایي: (والغلظة في الحقيقة صَلابة الذوات)، التحرير والتنوير (٣/ ٤٤٦)
(والغلظة) او غلظت په حقیت کې د اشخاصو صلابت ته ویل کیږي.
د مؤمن شان باید داسې وي لکه د صحابه کرامو په شان چې په سختۍ او راحت کې، په خوشحالۍ کې او په غم کې به د خپل امیر او أولو الأمر اطاعت کوي او د حق وینا به کوي هرچیرې چې وي او د حق په لاره کې به د هیچا پروا نه کوي.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِى الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى أَنْ لاَ نُنَازِعَ الأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لاَ نَخَافُ فِى اللَّهِ لَوْمَةَ لاَئِمٍ. صحيح مسلم (٦ /١٦)
ژباړه:- د عباده بن ولید د خپل پلار څخه او بیا د خپل نیکه عباده بن صامت رضي الله څخه روایت نقلوي هغه وایې چې مونږ بیعت وکړ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سمع او طاعت سره په سختۍ کې او آسانۍ کې،

په خوښۍ او نا خوښۍ کې او په غوره کولو نورو خلکو لره پر مونږ باندې او په دې باندې چې مونږ به نزاع نکوو د امارت د هغه داهل سره او په دې باندې چې مونږ به حق وایو هر چیرې چې یو .په یو بل روایت کې راځي( أن نقوم بالحق) مونږ به په حق باندې ولاړ یو هرچیرې چې یو او نه به ویریږو د الله تعالی په لار کې د ملامتیا د ملامت کوونکي څخه.
د کفارو د تبلیغاتو په وجه له کفارو سره ملګرتیا کول ځان په شرک او کفر کې اچول دي ځکه کفار یا ملحدین دي، یا مشرکین دی او مسلمان باید له شرک څخه ځان وساتي.په یو حدیث شریف کې راځي: عن أبى الدرداء قال أوصانى رسول الله صلى الله عليه وسلم بتسع : « لا تشرك بالله شيئا وإن قُطِّعْت أو حُرِّقت». الأدب المفرد للبخاری (ص: ٤)
ژباړه:- له ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماته رسول الله صلی الله علیه په نهو خبرو وصیت کړی دی. یوداچې شرک مه کوه له الله تعالی سره اګر که ټوټې ټوټې شئ او یا په اور وسوزول شئ.
که غربیان هرڅومره اسلامي امارت او اسلامي نظام پر بولي او په دې اړه مختلفې تبلیغاتي کارونه کوي قوي ایمان لرونکی یې باید هیڅ پروا ونکړي.
**۳- قوي ایمان لرونکی مسلمان باید په الله تعالی توکل وکړي او یواځې د الله تعالی څخه ویریږي او ددښمن د لاپو شاپو څخه نه ویریږي.**
قوي ایمان لرونکی مسلمان باید هر وخت د کافرانو او فاسقانو مقابلې ته چمتو اوسئ او په خپل ایمان او اسلام باندې باوري وي او ددښمن لاپو شاپو ته هم چمتو وي.
د بدر صغرا د غزوې پر وخت هم کافرانو او فاسقانو مسلمانانو ته وویل چې ابو سفیان د ډیر لوی لښکر سره راغلی دی او تاسې د هغوی مقابله نشی کولای او جګړې ته مه ورځئ، خو نبي علیه السلام وفرمایل: حسبناالله ونعم الوکیل مونږ وځو. الله تعالی فرمایلي دی: ( الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ) آل عمران: (١٧٣)
ترجمه:- هغه کسان دی چې وویل دوی ته (ځینو) خلقو چې : بېشکه (دمکې) خلق په تحقیق سره راټول شوي دي ستاسې(دجنګ)لپاره، نو وویریږئ ! له دوی نه (یا) په تحقیق سره ټول کړی یې دی( سامان د مقابلې) ستاسې لپاره ؛ نو وویریږئ له دوی نه ، پس (دغو ویرولو) لا زیات کړ ایمان د دوی (یقین زړوتوب)، او وویل دوی : بس دی مونږ ته الله، او څومره ښه وکیل (جوړوونکی) دی (الله).
**توضیح:** یعنې هرکله چې مسلمان ته وویل شي چې دښمن مو قوي دی یا تاسې د جنګ او جګړې وړتیا نلری او ورته بل ډول تبلیغات وشي،نو داسې تبلیغات باید د مسلمان د ضعف او کمزورۍ باعث نشي، بلکې بالعکس په دې سره د مسلمان ایمان نور هم قوت ومومي.
د صحابه کرامو په وخت کې منافقانو به مسلمانان ویرول او ورته به یې ویل ستاسې د مقابلې لپاره ډیرې زیاتې لښکرې راغلي دي او ددغو لښکرو د جګړې نه وویریږئ او له جګړې لاس واخلئ ،خو مسلمانانو دغو تبلیغاتو هیڅ التفات ونکړ او په الله تعالی توکل وکړ او له هغه څخه یې مرسته وغوښتله.
امام بغوي وایې { فَزَادَهُمْ إِيمَانًا } زیات کړ دغه خبرې د مؤمنان تصدیق ، یقین او قوت .د تفسیر البغوي (٢ /١٣٨)
نو قوی ایمان لرونکی مسلمان ددښمن په تبلیغاتو سره د هغه ایمان نور هم قوي کیږي .
د بخاري په روایت سره عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایې چې{قَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ} یوځل ابراهیم علیه السلام هغه وخت ویلی ؤ چې کله په اور کې اچول کیده او بل ځل نبي علیه السلام هغه وخت وویلو چې خلکو ورته وویل: (أن الناس قد جمعوا لكم فاخشوهم) نو نبي علیه السلام وفرمایل: [حسبنا الله ونعم الوكيل]. تفسير ابن كثير / دار الفكر (١ /٥٢٩)
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الْمُؤْمِنُ الْقَوِىُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِى كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَلاَ تَعْجِزْ ». صحيح مسلم (٨ /٥٦)

ژباړه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: قوي مؤمن غوره دی او ډير الله تعالى خوښ دی د ضعيف مؤمن څخه او په دواړو کې خير دی، حرص وکړه په هغه څه کې چې تاته نفع در رسوي او کومک وغواړه له الله تعالى او عاجز کيږه مه .

امام نووي رحمه الله ددې حديث په شرح کې ليکلي دي:(وَالْمُرَاد بِالْقُوَّةِ هُنَا عَزِيمَة النَّفْس وَالْقَرِيحَة فِي أُمُور الْآخِرَة ، فَيَكُون صَاحِب هَذَا الْوَصْف أَكْثَر إِقْدَامًا عَلَى الْعَدُوّ فِي الْجِهَاد ، وَأَسْرَع خُرُوجًا إِلَيْهِ ، وَذَهَابًا فِي طَلَبه ، وَأَشَدُّ عَزِيمَة فِي الْأَمْر بِالْمَعْرُوفِ ، وَالنَّهْي عَنْ الْمُنْكَر ، وَالصَّبْر عَلَى الْأَذَى فِي كُلّ ذَلِكَ ، وَاحْتِمَال الْمَشَاقّ فِي ذَات اللَّه تَعَالَى) شرح النووي على مسلم (٩ /١٩)

ژباړه:- مراد له قوت څخه دلته د نفس عزم دی او د آخرت په کارونو کې فکر کول دي ، نو ددې صفت خاوند د زيات اقدام والا وي په دښمن باندې په جهاد کې او ژر وتونکی وي دښمن ته( دمقابلې لپاره) او تيز وي په تللو کې د هغه په لټه کې او د کلک عزم خاوند وي په امر بالمعروف او نهى عن المنكر کې او په دې ټولو کارونو کې د کلک صبر خاوند وي او په تحمل د سختيو کې دالله تعالى په لاره کې (دالله د رضا لپاره)

**۴- قوي ايمان لرونکی مسلمان بايد د کفارو او فاسقانو د تبليغاتو په مقابل کې په تقدير ايمان ولري او دا ومني چې دا شيطاني وسوسې دي او بايد په دې يقين ولري چې دا ددښمن له طرفه تبليغاتي جګړه ده چې مخ په وړاندې وړل کيږي چې قوي مسلمان لره په کاردي چې د کافرانو او فاسقانو د تبليغاتو د تاثير لاندې رانشي.**

کفري نړۍ تبليغات کوي چې په افغانستان کې د ولږې او بيکارۍ کچه زياته شوې ده. مونږ دا ايمان لرو او په دې ثابت ولاړ يو چې دانسانانو رزق په اسمان څخه په خپله اندازه مقرر دی ، نه کميږي او نه زياتيږي. کله چې افغانستان اشغال ؤ د خلکو همدا حالت درلود او چې اوس اسلامي امارت حاکم دی هم د خلکو هماغه مخکنی حالت دی . د انسان د رزق فيصله د انسان دپيدايښت څخه مخکې شوې وي او د کفر په وجود سره نه زياتيږي او نه پراخه کيږي. د رزق د پراخي او تنګي اسماني فيصله ده او ريښتنی مسلمان هغه دی چې په فقر، مرضونو او د جګړې پر خت صبر او ثبات ولري. الله تعالى فرمايلي دي:(وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلاَّ بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ) الحجر:(٢١)

ترجمه:- او نشته هيڅ څيز مګر په نزد ځمونږ دي خزانې د هغه، او نه نازلوو (نه راليږو) هغه شی مګر په اندازې معلومې سره (نه لږ نه ډير، سم ځمونږ له حکمت او مصلحت سره).

د رزق خزانې الله تعالى ډيرى زياتې دي، خو د خپل ازلي علم په اساس خلکو ته يې په خپله اندازه ورکوي.

په يو بل آيت شريف کې راځي(وَلَوْ بَسَطَ اللَّهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهِ لَبَغَوْا فِي الْأَرْضِ وَلَكِنْ يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَا يَشَاءُ إِنَّهُ بِعِبَادِهِ خَبِيرٌ بَصِيرٌ) الشورى:(٢٧) که چيرې الله تعالى پراخه کړي رزق خپلو بندګانو باندې ، نو خامخا سرکشي به وکړي په ځمکه کې مګر نازلوي په هغه اندازه چې د هغه خوښه شي ځکه هغه په خپلو بندګانو خبردار دی او ليدونکی دی.

الله تعالى فرمايي: (وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ) البقرة: (١٧٧)

ترجمه:- صبر کوونکو په سختيو او په رنځونو کې او په وخت د جنګ(په لاره د پاک الله ) کې. او دغه (ستايلي شوي) هغه خلک دي چې صداقت يې کړی (په دين، متابعت د حق، او غوښتنې د نېکۍ کې) او دغه کسان همدوی دي پرهېز ګاران(ځان ساتونکي له ناوړو (بدو) اعمالو څخه).

**توضيح:** ريښتينی مسلمان هغه دی چې په فقر ، مرض او په جهاد کې صبر کوي او د (الصابرين) يې منصوب دی په کلمه د (امدح) سره .حافظ ابن کثير رح ددې آيت په تفسير کې ليکلي دی: صبر کوونکی دي په حالت د فقر کې او په حالت دمرض کې او په وخت د جګړې او ددښمن سره په مخامخ کيدو کې او (الصابرين) کلمه په مدح سره منصوب ده او په صبر باندې د ترغيب لپاره د وجی ددېنه چې دا حالات ډير سخت دي. تفسير ابن کثير / دار الفكر (١ /٢٦٠)

امام قرطبي رح وايي:الله تعالى ددوی صفت کړی دی په ریښتینولی او تقوی سره او وايې چې دوی په دین کې د جدیت خاوندان دي چې دا نهایت لوی صفت دی. تفسير القرطبي (٢ /٢٤٣)
{أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ)البقرة: (٢١٤)
ترجمه:- آیا ګمان کوئ تاسې (ای مؤمنانو!) چې ننه به وځئ تاسو جنت ته ، حال دا چې راغلي به نه وي په تاسې باندې په مثل (دسختیو) د هغو کسانو چې تېر شوي دي پخوا له تاسې نه، چې رسیدلې وه دوی ته سختتي (لکه فقر) او رنځ، او ګرځول شوي وو دوی (په سختيو سره) تر هغه پورې چې ویل به (هم) رسول او (هم) هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وو سره له ده چې: کله به وي نصرت د الله؟ خبردار شئ !واورئ! چې بېشکه نصرت د الله نږدې دی (مؤمنانو ته).
**توضیح:** بل داچې د قوی ایمان لرونکي مسلمان باید دا عقیده وي چې په دنیا کې پر مسلمان باندې مختلف امتحانات راولي ترڅو دده دایمان او صبر د قوت اندازه معلومه شي .
امام واحدي ددې آیت په تفسیر کې لیکلي:(فعلموا بهذه الآية أنهم يبتلون فلما ابتلوا بالأحزاب علموا أن الجنة والنصر قد وجبا لهم إن سلموا وصبروا). الوجيز للواحدي (ص: ٨٦٢)
ژباړه:- (مسلمانان) په آیت سره پوه شو چې دوی به په ازمیښت کې اچول کیږي ، کله چې غزوه خندق واقع شوه صحابه کرام پوهه شول چې جنت او کامیابي لازمي ده که چیرې دوی تسلیم شول د(الله فیصلې ته) او صبر یې وکړ.
**٥- د اسلام او مسلمانانو په ضد د تبليغاتو څخه موخه داده چې د اسلام او مسلمانانو څخه نړۍ ته بد انځور وړاندې کړي او د مسلمانانو ترمنځ اختلاف واچوي، قوي مسلمان باید هیڅکله ددوی د تبلیغاتو د اغیزې لاندې رانشئ.**
کافران او فاسقان په تبلیغاتو سره دوی غواړي چې د مسلمانانو ترمنځ وحدت، یووالی او ثبات له منځه یوسي او ددوی په منځ کې فساد او فتنې خپرې کړي او په مسلمانانو کې تزلزل او وارخطايي رامنځ ته کړي.
لکه په غزوه تبوک کې ځینې منافقین د مسلمانانو سره جهاد څخه پاتې شول، الله تعالى نبي عليه السلام ته وفرمایل چې ددوی نه تلل ستاسو په ګټه ؤ ځکه که چیرې له تاسو سره جهاد ته تللی وای ، نو دمسلمانانو په منځ کې به قسما قسم فتنې را پورته کړې وی او د مسلمانانو تدبیرونه به یې ګډ وډ کړی وای. الله تعالى فرمايلي دی: (لَوْ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلاَّ خَبَالاً ولأَوْضَعُواْ خِلاَلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ) التوبة: (٤٧)
ترجمه:- نو که وتلي وی دغه (منافقان) په (لښکر د) تاسې کې؛ نو نه به وو زیات کړي دوی تاسې ته (هیڅ شی) مګر شر، خرابي،فساد او چغلي او خامخا چابکی به کړې وه دوی په منځ ستاسې کې (په چغلۍ او نورو بدیو کې) حال دا چې غوښتله به دوی تاسې فتنه(ستاسې په منځ کې د دښمنۍ په اچولو او کافرانو څخه ستاسې په وېرولو کې).
**توضیح:** یعنې که چیرې دوی له تاسو سره وتلي وای ، نو ستاسې قوت به یې نه ؤ زیات کړی، بلکې اچولی به یې ستاسو په منځ کې فساد. النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (٢ /٣٦٨) (ولأَوْضَعُواْ خِلاَلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ ) او اچولی به یې ؤ په صفونو ستاسو کې اختلاف ستاسې د جماعت د پاشلو لپاره. النكت والعيون ـ موافق للمطبوع (٢ /٣٦٩)
اهل کتابو به ویل چې سهار ایمان راوړئ او چې مازیګر شي بیرته کافران شئ، ترڅو په محمد صلی الله علیه وسلم باندې د مسلمانانو عقیده کمزوري شي او له اسلام څخه راوګرځي. الله تعالى فرمايلي دي: (وَقَالَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمِنُوا بِالَّذِي أُنْزِلَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوا آخِرَهُ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ)آل عمران: (٧٢)
ترجمه:- او وویل یوې طائفې له اهل کتابو (بلې طائفې ته) چې ایمان یې راوړئ په هغه (قرآن) چې نازل کړی شوی دی په هغو کسانو چې مؤمنان دي ،(یعنې ای کتابیانو ایمان راوړئ) په اول د ورځې کې او کافران شئ (ای کتابیانو بیا) په آخر د ورځې کې لپاره د دې چې دوی (یعنې مؤمنان هم لکه کتابیان) (له ایمانه) و ګرځي.

**توضیح:** حافظ ابن کثیر ددې آیت په تفسیر کې وایې: دا د یهودو چل ؤ او غوښتل یې چې په کمزورو مسلمانانو باندې خلط او کډوډي راولي ددین په باره کې او هغه داچې دوی په خپل منځ کې مشوره وکړه چې دوی به د ورځې به اول کې دایمان اظهار وکړي او د مسلمانانو سره به د سهار لمونځ وکړي کله به چې شپه شوه بیرته به خپل دین ته واوړیدل ترڅو ناپوهه مسلمانانو ته وښایې چې د مسلمانانو په دین کې نقصان او عیب دی؛ ځکه دا یهود له اسلام څخه بیرته وګرځیدل. تفسیر ابن کثیر (١ /٤٥٨)
دوی وایې په افغانستان کې د ښځو حقوق د پښو لاندې شوي دي!
مونږ وایو که چیرې دوی د ښځو د حقوقو واقعا طرفدار وي بیا په فلسطین کې په سل هاو ښځې دوی ولې شهیدانې کړي تردې پورې چې د کوځو سپو یې غوښې وخوړلې! ، په ټنونو بمونه یې وربانديې واچول! له خپلو کورنو او مینو یې وویستلې! خوراک او څښاک یې وربانديې بند کړي ؤ! ....
غربیان ولې د فلسطین په ښځو رحم نکوي او حقوقو ته توجه نکوي کوم چې په شرعي او وضعي قوانینو کې ور څخه ممانعت شوی دی او داسې کړنې جنګي جرمونه شمیرل شوي دي.
**٦-قوي ایمان لرونکی مسلمان باید د کافرانو او فاسقانو د بدو تبلیغاتو په مقابل کې او په هره سختۍ او تکلیف یواځې الله تعالی ته رجوع وکړي او پر هغه توکل وکړي او له الله تعالی څخه مرسته او کومک وغواړي.**
مسلمان په دې کلکه عقیده ولري چې عزت ورکونکی او ذلت ورکوونکی ذات یواځې یو الله دی، که دالله خوښه شي بندګانو ته حکومت او نظام ورکوي او که یې خوښه شي حکومت ورڅخه بیرته اخلي او پرته د الله تعالی دارادې هیڅوک چاته کوم ضرر او نقصان نشي رسولی ، چې دالله اراده نه وي د کفارو ناوړه تبلیغات مسلمانانو ته هیڅ ضرر نشي رسولی.الله تعالی فرمایلي:(قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ).آل عمران: (٢٦)
ترجمه:- ووایه (ای محمده!) یا الله(ای) مالکه د سلطنت(واکداره د پاچاهۍ!) ورکې ته سلطنت هر هغه چاته چې اراده وکړې (یا الله د ورکولو یې) او بېرته اخلې سلطنت له هر هغه چا څنې چې اراده وکړې(د بېرته اخیستو یې) او عزت ورکوې هر هغه چاته چې اراده وکړې(یا الله د عزت یې) او خوار ذلیل کوې هر هغه څوک چې اراده وکړی (ددلت یې) په لاس ستا کې (هر راز) خیر (ښېګڼې)دي، بېشکه ته (یا الله) پر هر شي باندې ته قادر یې(هم په ورکولو ، هم په اخیستلو، هم په عزت، هم په ذلت).
**توضیح:** یو شاعر وایي: إِذا كانتِ الأَقْدارُ مِن مَالِكِ المُلْكِ××××××××فَسِيَّان عِندي مَا يَسرُّ وما يُبكي
ژباړه:- کله چې تقدیرونه د مالک الملک ذات له طرفه دي، نو برابر دي زما په نزد هغه څه چې خوشحالول کوي او هغه څه چې ژړول کوي.
کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مکه مکرمه فتح کړه او خپل امت ته وعده وکړه چې تاسې به فارس او روم هم فتح کوی کفارو او منافقینو وویل:( هیهات هیهات) دا ډیره لرې خبره ده چې مسلمانان دې فارس او روم فتح کړي ځکه فارس او روم ډیره سخته ده چې د هغوی په خاوره باندې څوک غالب شي ، نو دا آیت نازل شو. الوجیز للواحدي (ص: ٢٠٥)
الله تعالی په بې شمیره آیتونو کې مسلمانانو ته په الله تعالی باندې د توکل کولو امر کړی دی. الله تعالی فرمایي:
(فَإِن تَوَلَّوْاْ فَقُلْ حَسْبِيَ اللّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ)التوبة:(١٢٩)
ترجمه:- نو که و ګرځېدل دا (خلق له ایمان راوړلو په تا باندې) نو ووایه: کافي دی ماته الله، نشته هیڅ لایق د عبادت مګر همدی دی، پر همده توکل کړی دی ما، حال دا چې رب د عرش لوی دی.
**توضیح:** که چیرې کفار ستا له همکارۍ او منلو څخه انکار وکړي نو ته په الله تعالی توکل وکړه او ووایه چې بس ما لره الله تعالی کافي دی.

د موسی علیه السلام په باره کې راځي چې هغه خپل قوم ته وویل که چیرې تاسې په رښتیا سره په الله تعالی ایمان راوړی وي ، نو په همدغه الله تعالی توکل وکړئ.(وقَالَ مُوسَى يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ(٨٤) فَقَالُواْ عَلَى اللّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لاَ تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ)یونس: (٨٥)

ترجمه:- او وویل موسی (مؤمنانو د خپل قوم ته کله چې اثار د خوف ښکاره شو)؛ ای قومه زما! که یئ تاسې چې ایمان مو راوړی دی پر الله (چې خیر او شر او نور هر شی د ده په قدرت کې دی)؛نو خاص پر هم ده تو کل وکړئ که یئ تاسې مسلمانان(حکم منونکي د الله ).

نو وویل دوی :خاص پر الله توکل کړی دی مونږ، ای ربه څمونږه! مه گرځوه مونږ(سبب د) فتنې (ضلالت) لپاره د قوم ظالمانو!.

**٧- قوی ایمان لرونکی مسلمان باید هیڅکله د کافرانو او فاسقانو په تبلیغاتو عمل ونه کړي ؛ بلکې د هغوی تبلیغات خالص درواغ وگڼي.**

د کافرانو او فاسقانو د تبلیغاتو خبرونو اوریدونکو لره په کار دي چې د هغوی تبلیغات محض درواغ وگڼي او په اړه یې تحقیق او پلټنه وکړي او څه چې یې اوریدلي دي باور ورباندې ونه کړي او نه یې په خپرولو کې عجله و کړي؛ ترڅو د هغو خلکو له جملې څخه نشي چې هرڅه اوري هغه خپروي. الله تعالی فرمایلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ} الحجرات: (٦)

ترجمه:- ای هغو کسانو چی تاسو ایمان راوړی، که چیرته راتگ وکړ تا سولره فاسق اوبدکار! په یوه خبرسره،نوتاسوښه تحقیق پکښی وکړی له جهته دویری ددی چه وبه رسوی  تاسو یوه قوم لره  ضرر اوتاوان په ناپوهی سره نو پس وبه گرزی تاسو په هغه څخه  سره چی موعمل کړی دی خفه او پښیمانه.

باید په ټولو مؤمنانو نیک گمان ولرو او په خلکو د بد گمان څخه ځانونه وساتو، په ځانگړی توگه هغه خبرونه نه تصدیق کړو او باور ورباندې ونه کړو او نه یې نشر کړو چې د مسلمانانو پوری تړلی وي. په هغه څه باور په کار نه دی چې د کافر له خولی او یا له فاسق له خولی څخه وتلي وي.الله تعالی فرمایلي دي: {وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً} الاسراء:(٣٦)

ترجمه:- او مه کوه پیروی دهغه کار چه نه وي په هغه باندې تاته پوه (قول وی که فعل)بیشکه غوږ او سترگه او زړه؛هریو له دغو(دری واړو)دی چې پوښتنه به ورڅخه کولی شي.

باید قوي ایمان لرونکی مسلمان د اسلامي نظام او مسلمانانو د ټولنې په اړه تبلیغات بابیزه ونه گڼي او خپاره یې نکړي. الله تعالی مونږ ته داسې لارښوونه کړی ده.(مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ) النور:( ١٦)

ژباړه:- چې ویلي وئ تاسی نه ښايي مونږ ته دا کار چې خوله وخوځووپه دې خبره باندې، پاکي تاته ای ربه،  دا دروغ دي ډیرلوی (چې ډیر تړلی شوي دي دمنافقانوله خواه).

**اقول قولي هذا ، اسغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**